# د يادونو مقبرو کښې

١ سعدالله جان برق



ګران ډاکټر فضل الرحيم مروت په خپله هم ډېر قابل او مينه ناک سړے دے خو زما ورسره يو بل تعلق هم شته. ډاکټر صېب زما د يو ډېر پخواني خوږ او د ځوانۍ لېونۍ د وخت يار او د پښتو يو بې بدله شاعر عبدالرحيم مجذوب زوئے هم دے او چې کله مونږ سره يو ځائے شو نو دواړه د هغه باغ و بهار زمانې يادونه تازه کوو چې زما او د مجذوب صېب شريکه ميراثه او سرمايه ده. ډاکټر صېب ماته ووې چې دا يادونه خو د ليکلو دي او ليکل ئې پکار دي. خبره ډېره مزېداره وه خو ما چې د دې خپل در په در خاورې په سر ژوند په شا نظر واچولو نو عجيبه په يو دوه کښې حېران شوم. زما د ژوند خو دومره اړخونه دي يا زۀ په دومره مېدانونو او کوڅو کښې لوغړېدلے يم چې د ټولو بيان خو به په ليکلو چاپ کولو او لوستلو ډېر اوږد شي، ځکه چې زما د صحافت بيله دنيا ده، د سياست بيله دنيا ده، د رېډيو ټي وي يعنې شو بزنس بيله دنيا ده، دغسې د نظم، نثر، ډرامې، مزاح، افسانې هر څۀ پکښې شته بيا د اردو او پښتو هم بيلې بيلې ډېرې ويړې دنياګانې دي نو کوم کوم اړخ به ئې رااخلم خو څه توکل په خدائے.

زما په دې يادونو کښې چا ته څۀ فائده ورسېده نو د هغې کرېډټ به ډاکټر فضل الرحيم مروت ته ځي او کۀ څوک پرې خفه يا زهير شول نو دا به زما نااهلي او نالائق توب وي. برق

د ټولو نه اول خو ما ته دا مسئله راپېښه ده چې شروع د کومه ځایه وکړم، ځکه چې زما په خپل ابتدائي ژوند کښې د پېدا کېدو په مقام کښې او خاندان کښې هېڅ څۀ داسې خبره نشته چې زۀ پرې بربېت تاؤ کړم.

زۀ چې په کوم کلي کښې پېدا شوے یم هغه پبو سره نزدې د چراټ په سړک یو خړ پړ او هم هغه شان کلے دے چې زمونږ په پښتونخوا کښې بې شماره بې قطاره دي. هم هغه کچه کورونه، هم هغسې بد نصیبه خلق، هم هغه د وړو خویونو لوئے خلق او هم هغسې د لویو خویونو واړۀ خلق، څنګه چې هر کلي کښې وي هم هغسې ختې، خاورې، خزلې، دُوړې او بې وسه مجبور او غم لړلے ژوند.

زما خاندان کښې هم څۀ داسې هستي یا واقعه نشته چې بیان ئې کړم. یوه عامه کورنۍ چې د ژوند انحصار ئې په لږه شان ټکړه زمکه او ښۀ ډېر محنت او هلو ځلو وي.

په نیکونو کښې چې زۀ فکر کوم نو د یو نیکۀ نه سېوا نور ټول بې نومه خلق وو او دغه واحد نیکۀ هم راسره د بې شماره خلقو په شریکه دے او نوم ئې بابا آدم دے. ظاهره خبره ده چې هغه غریب د ابلیس غوندې دشمن او د قابیل غوندې اولاد نه علاوه په وراثت کښې ماته هېڅ نۀ دي پرېښې.

کله نا کله زۀ فکر کوم بلکې یو څو میا ګانو دوستانو ته مې وئیلي هم دي چې نیکونه ستاسو وو چې مړۀ دي او اوس هم درلـه ګټې او هغه زمونږ نیکونو خو په ژوند هم څۀ نۀ دي کړي. زمکه نۀ صحیح، خطاب نۀ صحیح، دولت نۀ صحیح نو کم تر کمه چې یو مقدس غوندې قبر خو ئې راته په وراثت کښې پرېښودے وے.

اوس ورسره څۀ کېدے هم نۀ شي، ګني ما به هم د زرګونو خلقو په شان خپل نیکونه د ګرېوانه نیولي وو چې دا نیکان داسې وي؟

د اردو یو مشهور شاعر جوش د خپلو یادونو په کتاب "یادون کي بارات" نوم ابښے دے خو د هغۀ ژوند کېدے شي چې د یادونو جنج وي ځکه چې دا خبره ئې هم لیکلي ده چې د اتیاؤ کالو په عمر کښې هم یوه د اتلسو کالو جینۍ پرې مئینه شوې وه او دې خوا زمونږ دا حال دے چې د اتلسو کالو په عمر کښې راته چا اتیا کلنې پېغلې هم ساګ نۀ دے اچولے. پته نشته زما د ځوانۍ وخت کښې د جینکو نظرونه کمزوري وو، کۀ څۀ چلؤ چې په "خطا" ئې هم راباندې چرته "رسا" ګزار نۀ دے کړے. ګني ښۀ ښائسته ځوان وم، دا خیال زما د مور و پلار ؤ چې تصدیق یا تردید ئې هېچا نۀ ؤ کړے.

نو زۀ د جوش غوندې د یادونو جنج خو نۀ شم روانولے چې ورته څهره په سر په اسپه سور روان شم خو کم تر کمه د یادونو جنازې مې ډېرې وړې دي چې نن سبا پرې قبرونه جوړ دي.

ماته داسې ښکاري چې په ما کښې په خپله څۀ چل دے، ګني نور مې هم ډېر بوډاګان لیدلي دي چې د ځوانۍ رنګینې قیصې ورسره بې شماره وي او چې هر ځل قیصه کوي نو خپل زوړ بیان ترې هېر وي.

زما یو د اخبار ملګرے کالم نګار دے حمید اختر ډېر مشهور او د اتیاؤ کالو نه د زیات عمر دے.

یوه ورځ مې د ایکسپرېس اخبار لاهور کښې د یو بل ملګري سره په ګپ شپ کښې ووې چې یار مونږ خو اوس هغه چل دے چې غائبونه وو نو نیښې نۀ وې او چې نیښې ډېرې شوې نو اوس غائبونه نشته، وئیل ئې تا هسې مړه ځان بوډا کړے، حمید اختر صېب خو اوس هم "ګرل فرینډ" ساتلې ده، ما وې زمونږ نصیب کښې خو ګرل فرینډ څۀ چې بوائے فرینډ هم نشته.

خبره مې دا کوله چې لکه د دغه نورو خلقو په شان زما ژوند څۀ په ترتیب کښې هډو تېر شوے نۀ دے نو د یادونو څۀ ترتیب ئې هم نشته. د کلي اولس پېدائش او ځوانۍ قیصه خو بس دومره ده چې هغه لکه یو ملا او خان ډوډۍ ته ناست وو، ملا خان نه د خپلې یوې بهادرانه کارنامې تپوس وکړو، خان شروع شو او چې قیصه ئې ختموله نو ملا ترې نه هر څۀ خوړلي وو، نیت ئې وکړو چې دې ملا سره به زۀ هم داسې چل کوم چې بیا داسې موقع راغله نو خان ملا صېب نه پوښتنه وکړه چې دا د یوسف او زلیخې څنګه قیصه وه، د خان دا خیال ؤ چې د یوسف زلیخې خو ډېر لوئے داستان دے او چې ملا صېب ئې خلاصوي خلاصوي نو ما به ترې هر څۀ خلاص کړي وي خو دۀ ته پته نۀ وه چې هغه هم ملا صېب دے. ملا صېب یوه غټه ګېپه په خلۀ کړه، بله ئې لاس کښې ونیوه او وئیلې ئې، هېڅ قیصه نۀ وه خو هلک ورک شوے ؤ، بیا پېدا شو.

زۀ چې سوچ کوم نو په دې خبره ډېر خوشحال شم چې د باچا خان او د هغوي تحریک سره زما کولمې شریکې دي، د باچا خان هم دریم نسل روان دے او زما هم ورسره دریم نسل دے اول نیکۀ بیا پلار او اوس زۀ د هغه زمانې ډېر څۀ ماته یاد هم نۀ دي. خو زمونږ په خوا کښې یو بل کلے دے خدریزي، د پېو ستېشن سره آباد دے بلکې د پېو ستېشن هم د دغه کلي په حدودو کښې دے. د دغه کلي یو ډېر زوړ خدائي خدمتګار ؤ، ملک نقیب الله. هغۀ به ماته وئیل چې زۀ په تا د هغه وخت نه مئین وم چې تۀ د څلورو پنځو کالو وې. سره د خدائي خدمتګارو وردي به دې اچولې وه او د نیکۀ سره به جلسو له راتلې. ملک نقیب الله ډېر پخوا وفات دے، زما د نیکۀ همځولے او ډېر نر او بهادر سړے ؤ او د هغه دور خدائي خدمتګار ؤ چې په پېبو کښې غازي خان بابا، فضل کریم بابا، میا محمد شاه او ورسره خوا کښې د چوکي درب کلي کښې یعقوب شاه باچا او زمونږ کلي کښې زما نیکۀ محمود خان سرګرم خدائي خدمتګاران وو.

دا خو زما د یاداشت نه بهر خبره وه ماته بالکل یاد نۀ دي چې ما په وړوکتیا کښې سره وردي اچوله او نیکۀ به جلسو له بوتلم.

خو بل یاد لا تر اوسه ژوندے دے چې باچا خان زمونږ کلي ته راغلے ؤ، ماته یاد شي شاید چې د لسو دولسو کالو به وم، یو لوړ دنګ او د وړې وړې ګدې وډې ږیرې خاوند ؤ چې زیات وښته پکې تور وو او لږ لږ پکښې سپین وو، د جلسې څۀ خبرې خو ماته یادې نۀ دي خو دا راته یاد دي چې ما ورته د نیکۀ په وینا د سکول زده کړے سلیوټ وکړو نو ډېر خوشحال شو، زۀ ئې په غېږې پورې جوخت کړم او په سر ئې راته لاس تېر وهلو او وئیل ئې، دا زمونږ وړوکے کرنېل دے. زما په وردۍ د کرنېلۍ نخښه وه، هم په دغه جلسه کښې اوس ما نه

د شاعر نوم هېر دے خو د شعر سروکے ئې راته یاد دے. وئیل ئې:

ور به دې نۀ کړمه په غټه پټه جوټه
زما پښتونه ووټه

دې نظم په ما کښې دومره جوش راوستو چې بیا ئې په نقل کښې ما هم څۀ لیکلي وو خو راته یاد نۀ دي.

زما د نیکۀ خو تحریک سره ډېر واقعات دي خو پلار مې دومره سرګرم نۀ ؤ، شاید چې هغه به هم ؤ، خو په زلمي توب کښې چرته پېښور کښې یوې مظاهرې له تلے ؤ، په هغې کښې پولیس ونیولو او جېل ته ئې بوتلو هسې خو ئې درې میاشتې تېرې کړې وې خو د یخنۍ موسم ؤ نو سخت بیمار شو، ټول واقعات زما د یاد په ګرفت کښې نۀ راځي، خو څۀ نمونیه یا داسې بیماري ئې وه او د هغې د علاج نۀ کېدو په وجه ئې ساه لنډے ملګرے شو او هم د دې مرض نه بیا په لږ عمر کښې وفات هم شو خو یو ځیز ئې ماته یادګار پرېښے دے، په جېل کښې به هغوي سره څۀ کسان داسې هم وو چې معافي ئې غوښتې وه او رهائي ئې موندلې وه چې د یو نامه پکښې هر څۀ چې وه خو په چېلۍ مُلا مشهور ؤ، د هغۀ په حقله ئې یوه سندره غوندې جوړه کړې وه چې:

جېل نۀ دې راوړه د معافۍ ډکه جولۍ
هئ هئ مُلا چېلۍ

د دې نه علاوه نور څۀ ئې ماته یاد نۀ دي خو دومره پته ترې لګي چې د شاعرۍ جراثیم پکښې لږ لږ وو چې بیا ئې زۀ په پوره مرض مبتلا کړم.

زۀ پخوا هم مبتلا وم، مبتلا یم لا تر اوسه
زړۀ چاؤدلے د مُلا وم د مُلا یم لا تر اوسه

د ساه لنډې د بیمارۍ د کبله مې پلار زمینداري نۀ شوه کولے او نۀ څۀ بل د بدني محنت کار ئې کولے شو نو د چائنک پیالو یعني لوښو د مرمت کار ئې زده کړو په هغه زمانه کښې به خلقو مات لوښې پیوندول، څۀ کُنډې شان به ئې پرې لګولې. اول به ئې په یوه برمه د چاود سره سره په مناسبه فاصله دواړه طرفونو ته سُوري وکړل، په دغه برمه کښې به ئې الماس (هیره) لګولې وه او بیا به ئې پرې د اوسپنې یا تانبې کنډې ټک وهلې.

په یو وخت کښې چې زۀ په بانګ حرم اخبار کښې وم نو یو سړي راپسې دا خبره کړې وه چې دۀ ته وګوره ځان نه ئې لوئے قلقلا خان جوړ کړے پلار ئې لوښي ګنډل. دا خبره چې ماته راورسېدله نو یوه ورځ مې راګېر کړو، ورته مې وئیل چې زما دپاره دا خبره هیڅ د شرم خبره نۀ ده چې زما پلار په لوښې ګنډل، بلکې زۀ پرې فخر کوم چې د بیمارۍ د کبله ئې د بدني محنت کار نۀ شو کولے نو په ځائے د دې چې چا نه ئې خېر غوښتلے نو حقه حلاله مزدوري ئې شروع کړه او دا خبره یو داسې سړي کړې وه چې په خپله د نیکۀ د قبر شکرانو ته ناست ؤ، بلکې د قبر په دکان کښې ئې د نیکۀ لاش خرڅولو.

باچا خان سره دوېم ملاقات زما هغه وخت شوے ؤ چې زۀ په بنو کښې وم او هغوي بنو سره نزدې په سرائے نورنګ کښې جلسې له راغلي وو. دا هغه وخت ؤ چې بیا ډېر زر باچا خان افغانستان ته لاړو، یو ملاقات مې ورسره بیا د جلال آباد په

شیشم باغ کښې شوے ؤ، چرته ئې چې اوس مزار دے.

یو ځل د مشهور صحافي او کارټونسټ یوسف لودي او قلندر مومند سره محمدنا ړی ته هغه وخت ورغلي وو چې بیا ئې د افغانستان نه واپس تشریف راوړے ؤ، یوسف لودي ترې د یوې ونې لاندې انټرویو واخسته او بیا مو ډېره شېبه ترې ډېر څۀ واورېدل. په دغه ملاقات کښې هم ما اندازه ولګوله چې د پښتنو نه لا اوس هم مایوس نۀ دے خو بیا چې څۀ موده پس په زیارت کاکا صېب کښې د افسر شاه کاکاخېل د وادۀ په موقع مې ئې خبرې واورېدلې نو ورو ورو ئې په خیالاتو کښې د پښتنو نه د مایوسۍ ځرک راغلے ؤ.

افسر شاه کاکاخېل په رېډیو کښې پروډیوسر ؤ او په هغه دربو کسانو کښې شامل ؤ، کومو چې د احتجاج په توګه د رېډیو نه استعفۍ ګانې ورکړې وې.

افسر شاه کاکاخېل پروډیوسر ؤ، نثار مظلوم ارګنائزر چې د پروډیوسر نه لړه اوچته درجه وي او اشرف مفتون اسسټنټ ریجنل ډائرېکټر ؤ.

د افسرشاه کاکاخېل د وادۀ په دغه موقع خدائے خبر څۀ چل ؤ خو ډوډۍ ډېره ناوخته دربو بجو پورې وځنډېده خو مونږ دپاره ډېره ښه په دې شوه چې روغې پنځۀ شپږ ګېنټې مو د بابا سره د خبرو سعادت حاصل کړو او په دغه ملاقات او خبرو اترو کښې ما ته پته ولګېده چې د بد نصیبه قوم پښتون دغه ساده او خړ پړ بابا ځومره لوئے انسان ؤ. زما په خیال کښې باچا خان هغه رنګ انسان ؤ د کوم دپاره چې علامه اقبال وئیلي چې:

هزارون سال نرگس اپنی بے نوری پہ روتے هے
بڑی مشکل سے هوتا هے چمن مین دیده ور پیدا

داسې خلق به ډېر پېدا شي چې ملکونه فتح کړي خو داسې خلق ډېر خال خال پېدا کېږي چې په زړونو حکومت کوي. زما یو نظم دے:

قدرت چې په انسان شي مهربان کله نا کله
پېدا کړي په دنیا کښې باچا خان کله نا کله

یو قوم چې کله ځان کړي خپلو وینو باندې رنګ
وژل او صرف وژل کوي پېشه ئې شي د جنګ
هر قسم بزدلۍ باندې نامه کېږدي د ننګ
د خپلې مور راوړي له بهادر او هم خشنګ

زرغون شي په کیکرو کښې ریحان کله نا کله
پېدا کړي په دنیا کښې باچا خان کله نا کله

هر قسم جهالت باندې نوم کېږدي د نر توب
بیا فخر کوي تل په هر یو کار د لېونتوب
په جر باندې مستېږي کړي کارونه د خرتوب
د یو لحظې غېرت او بیا د جېل بې غېرتوب

په دشت کښې چې بې لارې شي کاروان کله نا کله
پېدا کړي په دنیا کښې باچا خان کله نا کله